مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۰/۰۲/۲۱

## غزل

جومات که کلیسا که درمسال ته يو روان
جنون په سر وهلي يو بل جال ته يو روان

په ورکو پسي ګرځو رانه ورکه د ژوند لار
سکون خو مو مات کړی خو جنجال ته يو روان

روان يو خو بې حسه لکه مړي د لحد
يقين راته ګومان شي هسي خيال ته يو روان

په زور مو نه پوهيږو د همت ساه مو وتلې
په خاورو کښې لوبيږو بيا زوال ته يو روان

سواره يو پسرلېه! د نفاق په وحشی آس
خاني مو پرونی ده او نن سوال ته يو روان

مصطفی پسرلی
20/02/2020


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ